دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

# د کابل په اړوند

په افغانستان کې د ولسي جرګې د ټاکنو او د ځايي سياسي شبکو اهميت



د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د پارلماني ټاکنو ۱ لنډيز

د نوح کاوبرن ليکنه

د ۱۳۸۹ کال د غويي مياشت

# منځ پانګه

١. سريزه..................................................................................................................۴

٢. د پارلمان او د پارلمان د غړو په هکله تعبير.....................................................................۴

٣. څرنگه ځايي سياسي لرليد د پارلمان د غړو په هکله نظرونو ته بڼه ورکوي..................................٧

۴. ولې پارلماني ټاکنې د ځايي ټولنو لپاره ارزښتناکې دي..........................................................٨

۵. دا د ١٣٨٩ کال د ټاکنو لپاره څه مفهوم لري.........................................................................١٠

۶. پايلې.....................................................................................................................١١

ددې څېړنې دمالي لګښت يوه برخه د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت (FOSIA) له خوا برابره شوې ده.

د ليکوال په هکله: نوح کاوبرن په کابل کې د امريکې د سولې د انستيتوت سره د ټولنيز- کلتوري وګړ پېژندونکې په توګه کار کوي. هغه خپله دکتورا د بوستون له پوهنتون څخه په کال ١٣٨۵-١٣٨٨ په افغانستان کې د ځايي سياسي جوړښتونو، شخړو او دموکراتيزه کولو په اړه له څېړنې وروسته تر لاسه کړه. نوموړې خپله ماسټري په نيويارک کې د کولمبيا له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده.

**مننه:** ليکوال له هغو ټولو کسانو څخه چې خپل وخت يې په دې څېړنه کې د ګډون لپاره مونږ ته راکړ د زړه له کومې مننه کوي. دی همدا راز د څېړنې له ډلې هر يو محمد حسن وفايي، فريد احمد بيات، ظاهر صديقي او انيسه نضهت څخه په دې پروژه کې ددوی د ارزښتانکو همکاريو او مرستو له کبله مننه کوي. په پای کې هغه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له مشرې پاولاکانتور؛ انالارسن او جې لمې څخه مننه کوي او ددغه رپوټ په چمتو کولو کې د هغو ی د هڅو او هاند څخه د زړه له کومې ستاينه کوي.

**ژباړونکې:** ماری شيرزاد

تصحيح: سعيدالله ربښتين

**د پوښ انځور:** د ١٣٨٨ کال د لړم د مياشتې په ١۴ نېټه د کنړ په ولايت کې د خاص کنړ د پله د پرانيستولو د محفل يوه څنده ښيي چې د پارلمان يو غړی، د مشرانو جرگې يو استازی او د ځايي ټولنې استازی، والي او د ولايت د امنيې قومندان په کې حضور لري. نوموړی انځور د کنړ د بيارغونې د ولايتي ډلې د تخنيکي جګړن برين بويسورت له خوا اخيستل شوی دی.

© ١٣٨٩ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ټولې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښايي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د ليکوال د ليکلې اجازه ليک د تر لاسه کولو سره بيا خپره، د موندلو وړ سيستم کې زيرمه او يا يواځې د غير-سوداګريزو موخو لپاره ولېږدول شي. چيرې چې دغه خپرونه بيا خپره، زيرمه او يا د بريښنايي لارې لېږدول کيږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ويب پاڼې اړيکه بايد ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې يعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکينې ليکلې اجازه ليک ته اړتيا لري. دغه اجازه ليک کيدای شي د areu@areu.org.af او يا د ٠٠٩٣٧٩٩۶٠٨۵۴٨ شميرې سره د اړيکې له لارې تر لاسه شي.

## ۱. سریزه:

د افغانستان د پارلمان یا ولسي جرګې سره مینه په کورني سیاست او د افغانستان د حکومتدارۍ په اړه په نړیوالو بحثونو کې له سره تازه شوې ده. چې دا کار په ځانګړې توګه د ولسي جرګې له خوا د یو زیات شمیر نوماند وزیرانو د ردولو، د ټولټاکنو په هکله د ولسمشر حامد کرزي له وروستي فرمان سره د مخالفت او په لومړي سر کې د ملي بودیجې د نه تصویبولو له لارې وهڅول شو. د اجرائیوي څانګې سره د تکامل په حال کې اړیکو، او د ۱۳۸۹ کال د وږي د میاشتې ۲۷ نیټې ته د ټاکنو د په پام کې نیولو سره په ملي او ځایي سیاستونو کې د ولسي جرګې د ونډې په اړه چې په پوره توګه ورته پام نه دی اړول شوی یو لړ پوښتنې یې رامینځ ته کړې دي. د ۱۳۸۸ کال په ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د درغلی او فساد په اړه د اندیښنو سره سره، د تیرو ټاکنو څخه د زده کړو او په افغانستان کې د سیاسي فعالیتونو لپاره د پارلماني ټاکنو د ارزښت په هکله یو ډیر لږ د نظر یو والی شتون لري.

په داسې حال کې چې نړیواله ټولنه د راتلونکو ټاکنو د کړنلارې پر اړخونو تمرکز لري،[1] دغه لومړنۍ څېړنې څرګندوي چې د بیلابیلو دلیلونو له مخې د ټاکنو تر سره کیدل په ځایي کچه د ډیریو افغانانو اندیښنې یې را پارولې دي. په حقیقت کې، مرکه شوو هڅه کوله څو د فساد په ونډې او د حکومت د مشروعیت او د کړنلارې په هکله شک باندې ټینګار ونه کړي کوم چې په نړیوالو رسنیو کې د ټاکنو په هکله د روانو بحثونو د پام وړ ټکي دي. [2] دهغې پر ځای یې هڅه کوله څو د ځایي ملاتړکوونکو شبکو د مهمو غړو په توګه د پارلمان د غړو پر ونډې تمرکز وکړي کوم چې د ځایي ټولنو لپاره یې په کابل کې د مالي سرچینو سره د اړیکو لپاره یو لږ شمیر فرصتونه یې برابر کړي دي.

دغه سند استدلال کوي چې په ځانګړې توګه نړیواله ټولنه باید راتلونکو پارلماني ټاکنو ته خورا زیاته پاملرنه وکړي نه دا چې یوازې د یو رسم په توګه په افغانستان کې د پارلماني حکومتدارۍ دودې لپاره هڅې په لاره واچوي، خو په ډیره فوري توګه په له مفهومه ډک ډول په ټول افغانستان کې د سیاسي خبرو اترو د هڅولو او ځایي سیاسي شبکو ته په بیا بڼه ورکولو کې د پارلماني ټاکنو د وړتیا له کبله دا افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ته د یو لړ پراخو اقداماتو وړاندیز کوي څو خپلې هڅې په سمه توګه د ځایي او ډموکراټیکو سیاسي بحثونو د خورا اغیزمنتیا سره د مرستې لپاره په ښه توګه متمرکزې کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې خپله روانه څېړنه یې په دې اړه چې په دریو ولایتونو کې خلک د پارلمان د غړو په هکله څه درک لري، او له هغوی سره د خلکو د همکارۍ او همدا راز د ۱۳۸۹ کال د پارلماني ټاکنو په درشل کې د پارلمان د غړو د همکارۍ د څرنګوالي د څېړلو په هکله په لاره اچولې ده. د پروژې د یوې برخې په توګه دغه سند یوازې د پارلمان د غړو په هکله پر ځایي تعبیرونو متمرکز دی. نوموړی سند د کابل، پکتیا او بلخ د ولایتونو په اوو (۷) ولسوالیو کې د څه د پاسه ۱۰۰ مرکو او ډله ایزو خبرو اترو پر بنسټ ولاړ دی. مرکې په نوموړو دریو ولایتونو کې په لاره اچول شوې دي خو د نوموړو مرکو د پام ټکي د دې ولایتونو ولسوالۍ لکه قره باغ او استالف په کابل، احمد آباد او ګردیز په پکتیا، او بلخ، دهدادي او د کلدار ولسوالۍ د بلخ په ولایت کې وې. دغه مرکې له ځایي مشرانو او مخورو، د ولسوالۍ له چارواکو، د پارلمان له نوماندو او رایه ورکوونکو سره تر سره شوې او هڅه شوې څو د ښځو په ګډون د ټولنې ټول وګړې تر پوښښ لاندې ونیسي. همدا شان یولړ معلومات د پارلمان له غړو سره د ۵۳ تر سره شوومرکو څخه چې د داخلي پارلماني سیاستونو د مطالعې لپاره په موازي توګه تر سره شوې وې لاس ته راغلي. سر بیره پردې دا د څومیاشتنۍ څېړنې اود ۱۳۸۸ کال د زمري د میاشتې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړه د ۲۰۰ مرکو پر بنسټ ولاړه ده، کوم چې په افغانستان کې د پارلماني حکومتدارۍ پر لور د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د روانې څېړنې یوه بله برخه جوړوي. [3]

دغه رپوټ ځینې هغه لومړنې موضوعات څرګندوي چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې راسپړلې او په پام کې لري چې څرنګه دا کولای شي د راتلونکو پارلماني ټاکنو په اړه پوهاوی را مینځ ته کړي څرګند کړې دي. دغه رپوټ د پارلمان او د پارلمان د غړو په هکله د ځینو مهمو تعبیرونو له جزئیاتو سره چې له مرکو څخه تر لاسه شوي پیلیږي، او بیا پر دې موضوع چې ولې د ۱۳۸۹ کال ټاکنې به ځایي ټولنې اغیزمنې کړي بحث کوي او رپوټ د دې ټاکنو لپاره د ځینو پایلو له شننې سره پای ته رسیږي. د ځایي سیاسي جوړښتونو سره د پارلمان د غړو د تړاو د څرنګوالي په هکله یوه مفصله مطالعه د ټاکنو څخه وړاندې د خپریدو لپاره په پام کې نیول شوې ده.

## ۲. د پارلمان او د پارلمان د غړو په هکله تعبیر

د نوماندو په هکله د مخکینیو ځایي بحثونو او د ۱۳۸۹ کال د وږي د میاشتې پارلماني ټاکنو لپاره د کمپاینونو او د ۱۳۸۸ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو لپاره د تر سره شوو کمپاینونو تر مینځ یو لړ ورته والی موجود دی، لکه په ځایي کچه د سیاسي سمبالتیا

[1] دوه ښې بیلګې چې د ټاکنو د سمون لپاره په دفت سره تر سره شوې وړاندیزونه په کې شامل دي نړیواله ډموکراسي ده،'' په افغانستان کې د ټاکنیز سمون لپاره ګډ وړاندیزونه''(د ۱۳۸۹ کال د وږي میاشت) او د سکات وردن ''ځنډ به افغاني ټاکنو ته ښه والی ورنه کړي'' ۹ واشنګټن، ډي سي: USIP, فبروري ۱۳۸۹)

[2] د بیلګې په توګه '' ملګرو ملتونو د ټاکنو د مشرۍ لپاره یې د ولسمشر له ټاکنې څخه ې ملاتړ وکړ'' نیویارک تایمز د ۱۳۸۹ کال د وږي دمیاشتې ۲۸، او د '' افغانستان د ټاکنو لپاره یې نوم لیکنه پیل کړې ده'' AFP د ۱۳۸۹ کال د وږي د میاشتې ۳۱ وګورئ.

[3] '' ملا تړ، چال چلند، دندې، وګړ پیژندنه: ولې افغانانو په ۱۳۸۸ کال کې رایې ورکړې'' او په ګډه رایه ورکول: ولې د ۱۳۸۸ کال ټولټاکنې یو ناورین و او که نه وو د نوح کاوبرن او انا لارسن لیکنه او '' د مشروعیت له لاسه ورکول؟ د حکومت، نړیوالې ټولنې او د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو په اړه د ځینو افغانانو نظریات. '' د نوح کاوبرن لیکنه دا ټول د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې رپوټونه دي چې ټول ددې ادارې په ویب پاڼه کې www.areu.org.af د لاس رسی وړدي.

لپاره د قومونو[۴] او قبيلو او نورو ډلوتر مينځ سيالۍ. د ۱۳۸۹ کال له ټاکنو سره ددې ټاکنو مهم توپير دادی چې له دې سره د پام وړ شمير رايه ورکوونکو په اند دغه ټاکنې دهغې وړتيا درلودونکې دي چې کولای شي په کلکه ځايي سياسي او اقتصادي حالت اغيزمن کړي. دا ځکه چې د پارلمان غړې داسې فکر کوي چې د حکومت او نړيوالې ټولنې څخه خپلو ځايي ټولنو ته د سرچينو د راوړلو وړتيا لري. دا چې د پارلمان غړې تر کومه حده ددې کار وړتيا لري يو جدي بحث جوړوي. په داسې حال کې چې زياتره ځواب ويونکو دا احساس درلود چې ددوی پارلماني استازې په پوره توګه يې ددوی استازيتوب نه دی کړی، خو تر څيړنې لاندې ټولوسيمو کې لا تر اوسه هم په ضمني توګه دغه انګيرنې شته چې د دوی پارلماني استازی بايد د خپلو ملاتړکوونکو لپاره کار وکړي،او داسې يو عنصردی چې د نورو سياسي څيرو لکه د ولايتي شورا د غړو په هکله له بحثونو څخه پاتې دی. له دې سره سره چې ټاکنو ته څلور مياشتې پاتې دي له وړاندې نه په دې اړه چې څوک به سيالي وکړي او د بيلابيلو ډلو له خوا د ملاتړ کيدونکو نوماندو په اړه د پام وړ بحثونه روان دي.

په داسې حال کې چې د پارلمان غړې په تخنيکي توګه د حکومت رسمي چارواکې دي، خو د ډيرو هغه کسانو له نظره چې مرکه ورسره شوې ده دوی ترټولو لومړی د ځايي شبکو غړې دي، کوم چې اکثراً د ملاتړ پر بنسټ ولاړ او رسمي او غير رسمي مشران لکه ملکان[۵]، قومندانان، ولسوالان او مذهبي څيرې په کې برخه لري. په افغانستان کې له يوبل سره تړلې د سياسي او اقتصادي پراخو اړيکو لړۍ ګڼ شمير بنې يې ځانته غوره کړي خو اکثراً د واده، سوداګرۍ، ملګرتيا او نور ټولينزو او اقتصادي اړيکو له لارې لاهم پياوړې کيږي. دا تر يوه حده د په ځايي سياستونو کې د قانوني مشروعيت پرځای پر شخصي اړيکو د ټينګار له لارې رامينځ ته کيږي. د پارلماني غړو ټاکنيزه بريا اکثراً د ځايي مشرانو سره د اړيکوپايله ده چې دغه مشران په خپل وار سره له کابل سره د اړيکو له زياتيدو څخه د ګټه پورته کولو ليوالتيا لري. دا په دې مفهوم دی چې په داسې حال کې چې پارلماني غړې حکومتي موقفونه لري خو زياتره مرکې د رايه ورکوونکو او د پارلمان له غړو سره ددې څرګندونه کوي چې ددوې واک لا تر اوسه پر ځايي اړيکو استواره دی. په يو لړمرکو کې د کابل څخه يو نوماند ته د" يوه وکيل[۶] د زوی" په توګه اشاره شوې چې پر دغو شخصي اړيکو ټړاو څرګندوي او کم شمير مرکه کوونکې آن د نوماند په نوم پو هيږي.

د زياترو مرکه شوو کسانو له نظره د ځايي څيرو او د دوی د ټاکل شوو پارلماني استازو دنده ده څو د حکومت مالي مرستې او د نړيوالو د مرستو رسونه ځايي ټولنو ته تضمين کړي. په پای کې مرکه شوې کسان په دې هکله قضاوت کولو ته ليوالتيا لري چې آيا دوی دا احساس کوي چې د پارلمان د يوه غړې په مرسته دوی د همدې شبکو له لارې يې سرچينې او په ځانګړې توګه پراختيايي پروژې تر لاسه کړي. او که چيرې دا کار نه وي شوی نو ښايي دوی د خپل ځايي پارلماني استازې په هکله په کلکه منفي نظر ولري. او که چيرې دا کارپه يوه ټيټه سلنه کې هم شوی وي نو ښايي دوی د خپل پارلماني استازې په هکله په کلکه مثبت نظر ولري.

هغه ځواب چې د بلخ له ولايت څخه يوه سړي ورکړ عام ؤ " په دې هيواد کې پارلمان يواځې يوه کلمه ده؛ دوی په حقيقت کې زمونږ لپاره څه نه کوي، ". يوه بل سړي وويل: " زه د پنځو کلو راهيسې دلته ژوندکوم، خو يواځې د پارلماني استازې نوم مې اوريدلی دی. خو ما هيڅکله دی نه دی ليدلی، او نه مې ليدلي چې ددې سيمې لپاره ده څه کړي دي. " نورو چې احساس يې درلود چې د پارلمان استازې نه يواځې اغيزمن نه وو بلکې د خپلو سيمو لپاره په پام کې نيول شوې پيسې يې هم غلا کړې دي ډيرې کلکې جملې يې وکارولې لکه چې يوه سړي وويل " د پارلمان غړې يواځې د خلکو وينې څښي. " دغه څرګندونې په نورو مرکو کې هم دهغو قومندانانو لپاره په کارول شوې دي چې ددې پر ځای چې د خپلو ځايي ټولنو لپاره هغه فرصتونه برابر کړي چې ټول په اندوله توګه ترې ګټه پورته کړي له خپل موقف څخه د شخصي ګټو لپاره کار اخلي.

هغه مرکه کوونکو چې احساس يې درلود د دوی پارلماني استازو د پام وړ توکو په رسولو کې يې له دوی سره مرسته کړې ده هڅه يې کوله څو د بلخ له ولايت څخه د يوې ميرمنې څرګندونې منعکسې کړي:

> " مونږ له خپلو پارلماني استازو سره ډيرې ښې اړيکې لرو او کله چې له کومې ستونزې سره چې په دوی پورې اړه ولري مخامخ کيږو، نو دوی په ښه توګه غبرګون څرګندوي زمونږ پارلماني استازې مونږ ته يې لارې، ښوونځي او د ښځو لپاره د ليک لوست د زده کړې کورسونه يې جوړ کړې دي " ډيری هغه کسان چې د خپلو پارلماني استازو په هکله يې مثبتې څرګندونې درلودلې د پارلماني غړو څخه زيات د ملاتړله شبکو څخه يې ستاينه وکړه. د بيلګې په توګه لکه چې يوه رايه ورکوونکې څرګنده کړه چې،" زمونږ د ځايي ټولنې او د پارلمان تر مينځ ښې اړيکې موجودې دي دا ځکه چې په پارلمان کې زمونږ استازی هڅه کوي چې د خلکو او پارلمان تر مينځ د يوه پله په توګه کار وکړي هغه په پارلمان کې د زيات مصروفيت له کبله له خلکو سره په نيغه په تماس کې نه دی، خو خلک د هغه د ورور له لارې چې د ولسوالۍ د شورا مشر دی له ده سره اړيکې لري او شورا داسې يوه اداره ده چې خلک په ډيره اسانه توګه ورسره اړيکه درلودلای شي. خلک عموماً شورا ته زمونږ پارلماني استازې ته د خپلو ستونزو د ليږدولو په موخه ورځي." سره له دې ځواب ويونکو د پارلماني استازو او د نورو ځايي سياسي څيرو سره د اړيکو د نه شتون په هکله يې پر له پسې شکايتونه درلودل.

[۴] قوم يوه افغاني سياسي او ټولنيزه اصطلاح ده چې اکثراً د عشيرې يا قبيلې په نامه هم تفسيريږي دا د هغه د استعمال پر ځای پورې اړه لري دا

د هويت له پلوه هغه ورته ډلو په مفهوم دی چې له کورنۍ څخه تر قوميت پورې رسيږي.

[۵] ملک په کليوالو سيمو کې د ځايي ټولنې مشر دی، چې د حکومت او ځايي ټولنيو تر مينځ تر يوې اندازې اړيکې لري. په ځينو سيمو کې ملک ته قريه دار او يا ارباب هم وايي او ټول په بيلا بيلو سياسي حالاتو کې بيلا بيلې ونډې لوبولای شي.

[۶] وکيل يعنې د خلکو استازی.

سر بیره پردې د پارلمان استازې یوې ځایي ټولنې ته د سرچینو او یا ګټو د رسولو، په کابل کې د موجودو خدمتونو او نفوذ سره د ټولنې د اړیکو د ساتلو د وړتیا له کبله خورا مهم ګڼل کیږي. په داسې حال کې چې اکثراً دا کارخورا پیچلی وي ځواب ویونکې اکثراً دغه بهیر په واقعي ډول څرګندوي، په دې توګه چې یو کس لومړی د ځایي ملک سره اړیکه نیسي چې هغه بیا له نورو مخورو مشرانو سره یوځای ستونزه پارلماني استازې ته رسوي (او یا هم دا چې ښایي ستونزه ولسوال ته وړاندې کړي). بریالي پارلماني استازې خپلو موکلینو ته د وزارتونو، سفارتونو او نورو چارواکو ته لاس رسي برابروي. ځواب ویونکو د هغه پارلماني استازو بیلګې یې وړاندې کړې چې ددوی لپاره یې پاسپورتونه، د کډوالۍ د وضعیت تصدیق لیکونه او د لوړو زده کړو له آزموینو څخه د معافیت د اسنادو په ګډون یې نور حکومتي اسناد برابر کړې دي. دا په دې معنی ده چې په کابل کې د چارواکو سره د شبکې د جوړولو په کار کې د پارلمان د استازې وړتیا په ځانګړې توګه خورا مهمه ده. پارلماني استازې ددې اړتیا په هکله په ښکاره توګه خبرتیا لري لکه چې د یوه کس له خوا د بلخ په ولایت کې څرګنده شوه: " هغه پارلماني استازې چې ښې شبکې لري نسبت نورو ته ډیر اغیزمن دي ځکه پارلماني استازې که چیرې غواړي چې ستونزې حل کړي نو باید له وزیرانو سره په انفرادي توګه وګوري. "

البته چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې سیاسي شبکې په جدي توګه یوازې د سرچینو او یا د خدمتونو د برابرولو په هکله نه بلکې نوموړې شبکې د ټولنیزو اړیکو، ودونو او دیني مکلفیتونو په هکله هم دي. ګڼ شمیر ځواب ویونکې له خپلو پارلماني استازو سره هغه وخت چې دوی د ټولنیزو مراسمو لکه ودونو، جنازو لپاره کورته ورځي اړیکه ټینګوي. ځینې پارلماني استازې د دودیزو ونډو د سرته رسولو لکه خلکو ته د جشنونو په برابرولو او د ځایي شخړو د حلولو له کبله ستایل شوې دي. په کابل کې یو پارلماني استازی په خپله سیمه کې د ځایي ټولنو په کچه د شخړو د حل له کبله د یوې مهمې څیرې په توګه پیژندل شوی دی. ګڼ شمیر ځواب ویونکو په دې هکله خبرې وکړې چې کله چې له دوو بیلا بیلو قومونو څخه یو هلک او نجلۍ له یوه بل سره وتښتیدل نو هغه څرنګه وغوښتل شو. د نجلۍ کورنۍ ګواښونه ورکول چې دهلک د کورنۍ غړې به ووژني تر هغه چې پارلماني استازې یوغونډه جوړه کړه چې په هغې کې کورنۍ ددې پر ځای یې د جبران پرسر سره جوړه وکړه.

د پارلماني استازو په هکله دغه شان نظرچې دوی په ځایي شبکو کې ژورې ریښې لري له هغه حقیقت سره مرسته کوي چې د موکلینو له نظره پارلماني استازې د حکومت برخه نه ده، بلکې د یو انډول کوونکې ډلې په څیرکولای شي کله ناکله حکومت ته د یوه کس د لاس رسی په لاره کې مرسته وکړي. دا هغه څه منعکسوي چې پارلماني استازې د حکومت په وړاندې د خپل د موقف په هکله خبرې کوي.٧ زیاترو ځواب ویونکو د "حکومت" کلمه به یې د اجرائیوي برخې په توګه په کاروله او پارلمان ته یې د اجرائیوي څانګې د مخالف ځواک په توګه کتل. ددې مرکه شوو لپاره چې هڅه یې کوله د حامد کرزي له حکومت سره خپل مخالفت څرګند کړي پارلمان ورته د موجود وضعیت سره د مخالفت لپاره د هغو څو لارو څخه یې یوه برابره کړې ده. دغه شان محکومول د غیر پښتنو په سیمو کې پیاوړې وو، خو پر حکومت نیوکې په ټولو ولسوالیو کې چیرې چې مرکې تر سره شوې دي لا تر اوسه هم په لوړه کچه دي. د کرزي ګڼ شمیر ملاتړې سره له دې چې د مرکزي حکومت کمزروتیاوو بی اهمیته ګڼي د دوی له نظره د پارلمان او اجرائیوي ځواک تر مینځ بیلوالی د حکومت د اغیزمنتیا محدودیدل دي. ګڼ شمیر په دې باور دي چې نړیواله ټولنه ددې کمزورتیا لامل ده. یوه زده کوونکې څرګنده کړه:

> *حکومت د یوه هیواد پلار او پارلمان د ددې کورنۍ یو غړی دی. په ټولیزه توګه د کورنۍ غړي د خپل پلار لاره تعقیبوي، خو په حقیقت کې زمونږ پلار یوازې د نړیوالې ټولنې په ګټه کار کوي. چې دا د پارلمان او حکومت تر مینځ د تشې مهم دلیل کیدای شي. که چیرې حکومت [اجرائیوي څانګه] وغواړي چې د پارلمان سره ښې اړیکې ولري، نو باید په لومړي سر کې په خپلواکه توګه عمل وکړي [د بهرنیانو له نفوذ څخه].*

په ځایي ټولنو کې رایه ورکونکې اکثراً د سرچینو په برابرولو کې د بیلابیلو ځایي څیرو وړتیا سره پرتله کوي او د اړتیا په وخت کې د هغه کس ټاکنه یوه مهمه سیاسي پریکړه ده چې د ګڼ شمیر ځایي خبرو اترو په مرکز کې ده. په ځینو سیمو کې دا چې چا څه ډول خدمتونه برابر کړي روښانه بیلګې یې لیدل کیږي. په نورو حالاتو کې که څه هم چې په دې اړه چې کوم ځایي مشران یا پارلماني استازې د سیاسي پانګې په سمبالتیا او، د بیلګې په توګه دیوه غیر دولتي سازمان سره چې په دې سیمه کې کارکوي د اړیکو په ټینګولو کې تر ټولو اغیزمن دي څرګنده سیالي او عامه بحثونه روان دي. له کابل څخه یوه سړي خپله تجربه داسې څرګنده کړه: " ما پارلماني استازې ته ټلفون وکړ خو هغه ځواب را نه کړ، نو ما پریکړه وکړه چې خپله لاره په خپله وټاکم، تر ټولو روښانه او اغیزمنه لاره زمونږ سیمې ته. زه قریه دار٨ ته ولاړم او زه په دې وتوانیدلم چې په دې توګه خپله ستونزه حل کړم. " یوه بل سړي وویل:

> *زمونږ دکلي ملکان تر پارلماني استازې زیات اغیزمن دي، ځکه چې ملکان د خلکو له مینځ څخه ټاکل شوي دي، دوی تل د خلکو په مینځ کې دي او دوی تل د خلکو او ولسوالۍ تر مینځ د یوه پله په څیر دي. خلک د پارلماني استازې په پرتله له خپل ملک سره په خورا اسانۍ اړیکه درلودلای شي او ملک ددوی ستونزه ولسوالۍ او یا کومې بلې ادارې ته رسوي.*

په پای کې پارلماني استازې په عین وخت کې د ځایي نفوذ لپاره له قومندانانو، ملکانو او نورو مشرانو په وړاندې سیالي او له هغوی

---

٧ په دې هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره، په ا فغانستان کې د پارلماني اړیکو په هکله د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې راتلونکې ریپوټ چې د محمد حسن وفایي لیکنه ده وګورئ( چې د ١٣٨٩ کال د غبرګولي په میاشت کې به خپور شي).
٨ پنځم فوټ نوټ وګورئ.

سره کار کوي. په داسې حال کې چې پارلماني استازي له دغو ځايي مشرانو او مخورو څخه د خپل سياسي بنسټ د سمبالتيا لپاره کار اخلي، ملکان او نور ځايي مشران له پارلماني استازو څخه په ځايي کچه د ملاتړ د شبکو سره د دوی د اړيکو ټينګولو د وړتيا له کبله کار اخلي. د پارلماني استازو او يا د نورو ځايي سياسي څېرو اغېزمنتوب( يا د اغېزمنتوب نشتوالی) د ځينو خورا مفهوم لرونکو ځايي سياسي خبرو اترو د رامينځ ته کيدو لامل کيږي، له دې سره ګڼ شمير ځواب ويونکې دې ته ليواله دي چې حکومت ته د لاس رسی لپاره بيلا بيلې څېرې او کړنلارې سره پرتله کړي. دغه بحثونه په هغو سيمو کې ډېرلږ. څرګند دي چې د قومي ځواک او يا پر قومي بنسټ ولاړو سياسي ګوندونو( لکه په پکتيا او بلخ کې) په واسطه د هغو سيمو په پرتله چيرې چې د قومندانانو حکومتي چارواکو او ځايي مشرانو ونډه د بدلون په حال او په ځايي کچه د بحث په حال کې ده دغه شبکې خورا ثابتې دي (لکه استالف، قره باغ اودشت برچي په کابل کې).

د ټاکنې د تګلارې په توګه د پارلمان اوسني غړې او پياوړې نوماند ې هڅه کوي ځانته ملاتړې ومومي څو په دې توګه ډېرې رايې وګټي، په داسې حال کې چې ځايي مشران هڅه کوي څو د خپلې ځايي ټولنې لپاره هر څومره ډېرې سرچينې چې امکان ولري خوندي کړي. دغه دواړه چارې د رايه ورکونکو د سمبالتيا او د سياسي اړيکو له لارې تر سره شوې څو د درغلۍ له لارې په رايو کې لاس وهنه وشي. په زړه پورې ده چې په داسې حال کې چې زياتروځواب ويونکو په ملي کچه له درغليو څخه يې شکايت درلود خو ډېرو لږو کسانو دا احساس درلود چې ددوی په سيمه کې د پام وړ درغلۍ موجودې وې. سر بيره پردې، په ځينو بيلګو کې د نوماندو د غير قانوني کولو پرځای د ټاکنو په خپلو اک کميسيون کې د سياسي اړيکو څخه د ګټه اخيستلو وړتيا په ځانګړې توګه د نوماندنو د سياسي پياوړتيا د نښې په توګه ګڼل کيږي، زياترو دايې څرګندوله چې دوی ولې د ټولنې استازيتوب وکړي.

د پارلمان د غړو او د ملاتړ د ځايي شبکو تر مينځ اړيکو نن ورځ په افغانستان کې د سياسي ټولنو د لويوالې او بڼې په هکله يو لړ په زړه پورې پوښتنې يې را مينځ ته کړې دي. هڅه کيږي چې د ولسوالۍ په هکله د يو مهم ځايي سياسي واحد په توګه خبرې وشي ځکه چې اوس مهال ګڼ شمير سترې پراختيايي پروژې د ولسوالۍ په کچه پلې کيږي. د هغه حقيقت سره سره چې د پارلمان غړې د ولايتي رايه ورکونکو له خوا ټاکل شوې دي، له دې کبله ګڼ شمير مرکه شوو کسانو له دوی څخه يې د يوې ځانګړې ولسوالۍ د استازو په توګه يادونه کوله.٩ په عين حال کې په يوه ولسوالۍ کې د ځايي مشرانو او قومندانانو سيالې شبکې اکثراً له مخالفو نوماندو څخه ملاتړ کوي. چې دغه حالت په ځانګړې توګه په هغو ولسواليو کې چې د قومي ډلو (لکه قره باغ په کابل کې) يا د ګوندي ډلو( ګڼ شمير ولسوالۍ د بلخ په ولايت کې) تر مينځ ويشل شوې دي ليدل کيږي. مرکه شوو کسانو په افغانستان کې د زياترو برخو او په ځانګړې توګه د زياتو ويشل شوو سيمو په برخه کې ځايي سياسي ټولنې يې د ملاتړ ځانګړو شبکو ته د لاس رسۍ او يا د دوو او يا ډېرو مستقيمو سيالي کوونکو شبکو په واسطه څرګندې کړې. په عين حال کې، سره له دې چې شبکې په دوامداره توګه ځانته بيا بڼه ورکوي، دبيلګې په توګه په قره باغ کې د ځمکې پر سر وروستۍ شخړو ګڼ شمير سياسي اړيکو ته يې بيا بڼه ورکړه په داسې حال کې چې په عين وخت کې ځايي سياسي مشرانو په تيره لسيزه کې يې هڅه کړې څو خپلې اړيکې له نړيوالو غير دولتي سازمانونو(NGOs) سره پراخې کړي. دا په دې معنی ده چې په داسې حال کې چې هغه خلک چې په افغانستان کې خپل ځان د يوې ټاکلې سياسي ټولنې په توګه ګڼي ښايي ديوې شيبې لپاره به ثابت ښکاري، خو په حقيقت کې په تدريجي توګه د پر مختيا په حال کې سياسي شرايط به هغه کسان چې په يوه ټاکلې وخت کې ځانونه د يوې ټاکلې شبکې برخه بولي اغيزمن کړي.

## ٣. څرنګه ځايي سياسي لرليد د پارلمان د غړو په هکله نظرونو ته بڼه ورکوي

د ملاتړ او همکارۍ پر بنسټ ولاړو سياسي شبکو د پاييدونکې حضور سره سره، د پارلمان د غړو او د هغوی د موکلينو د اړيکو تر مينځ په هغه ولايتونو کې چې مرکې تر سره شوې دي څرګند توپيرونه ليدل کيږي، چې هڅه کوي د سياسي شبکو هغه بيلا بيلې بڼې چې د افغانستان په بيلابيلو سيموکې را مينځ ته کيږي منعکسې کړي. په پکتيا کې د پارلمان غړي د قومي جوړښت يوه برخه ده او له ځينو اړخونو نه د قومي شبکو پراختيا په مرکزي حکومت کې ده چې اکثراُ د نورو سيمو په پرتله ته ډېره ده. په بلخ کې که څه هم چې عطامحمد نور يو حاکم سياسي ځواک دی د سرچينو په رسولو کې د يوه پارلماني غړې وړتيا د هغه سره پر اړيکو ولاړه ده. يوه مرکه شوې وويل:" په دې ورځو کې زمونږ چاپيريال د عطا له خوا کنټروليږي. هغه يواځينی کس دی. د پارلمان ټول غړې د هغه له خوا کنټروليږي او دوی له يوبل سره ښې اړيکې لري. ټول لوړ پوړيزه او ښايسته ودانۍ چې ګورئ په هغوی پورې اړه لري." په پای کې د کابل د قره باغ او استالف په ولسواليو کې چيرې چې ځايي جنګ سالاران په سيمه کې د پښتنو او تاجيکو ترمينځ په آرامو مبارزو کې خپلې مهمې ونډې لوبولو ته ادامه ورکوي، دا د پارلمان غړې دي چې خپلې اړيکې له دې قومندانانو او اړوندو څېرو سره بدلوي چې د دوی د ځواک په بڼه ورکولو کې خورا مهم دي.

په خپل وار سره، لکه چې تمه کيږي په يوه سيمه کې د يوه وګړې صداقت په خپله ټولنه کې د سياسي فعاليتونو د تشريح او د سياسي مشرانو او دهغوی د مرستو د ارزولو د څرنګوالې بڼه ورکولولپاره ډير څه کولای شي. د بيلګې په توګه په قره باغ کې يوه نوې پروژه ده چې د يوه کانال له لارې يې اوبه له چاريکارو نه دې سيمې ته رسولې دي څو په دې توګه د کرهينزو ځمکو اندازه زياته کړي. ولسوال، ځايي پارلماني استازی، د ولايتي شورا ځايي استازی او نو رمخور مشران د چاريکار له خلکو سره د اوبو د برخې ، د کانال

٩ په دې هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره د يوې افغاني ډموکراسۍ پر لور د انا لارسن ليکنه( کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ١٣٨٨) او د وفايي د پارلماني اړيکو راټلونکې ليکنه وګورئ.

د پاکولو او بیا جوړولو او دیوه داسې سیسټم د رامینځ ته کولو په اړه کار په هکله مذاکرو کې ښکیل وو چې په پایله کې یې کله چې اوبه قره باغ ته ورسیږي نو په انډوله توګه به له اوبو څخه ګټه پورته شي. داسې ښکاري چې د پارلمان غړی د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزارت څخه د دې پروژې لپاره د مالي مرستې د تر لاسه کولو لپاره لومړنی مسوول کس ؤ، په داسې حال کې چې د ولایتي شورا غړی نوو اوبو ته د لاسرسی پر سر د ګڼ شمیر شخړو د حلولو په برخه کې یو مهم کس ؤ. که څه هم چې د ټاکلو څیړو له خوا د لوبول شوې ونډې په اړه د ګڼ شمیر متناقضو رپوټونو د شتون سره د څیړونکو لپاره د جزئیاتومعلومول په حیرانونکي توګه خورا ستونزمن کار ؤ. په مرکو کې یوې او بلې څیړې ته د بشپړ اعتبار ورکولو لیوالتیا څرګنده وه. په پای کې هغه کسان چې د پارلمان د غړې ملاتړې دي هغه ته ځانګړی اعتبار ورکوي، په داسې حال کې چې هغه کسان چې د ولایتي شورا له غړې سره اړیکه لري هڅه کوي چې په خپلو څرګندونو کې له هغه څخه ملاتړ وکړي چې دا ډول متناقضې کیسې سیاسي واک څرګندوي(له ډیرو اړخونو څخه دا ډول کیسې سره له دې چې د واک څرګندونه کوي بیلا بیلې خواوې سره پرتله کوي هم) دا هم روښانه ده چې د ملاتړ دغه شبکې د طالبانو څخه وروسته پړاو کې د سیاسي او اقتصادي شرایطو له بدلون سره یې بدلون او سمون موندلی. په ځینو سیمو کې هغه څیړې چې د نړیوالو مرستو د رسولو وړتیا لري دهغو قومندانانو په پرتله چې د ملیشه ډلو د سمبالونې وړتیا لري خورا لوړ مقام لري، په داسې حال کې چې په هغو سیمو کې چې تاوتریخوالی زیات دی د ملیشو مشرانو خپل نفوذ یې په لوړه درجه کې ساتلی دی.

د ۱۳۸۰ کال راهیسې د پارلماني ټاکنو د دوهم پړاو له راسیدو سره، د پارلمان غړې په مخ په زیاتیدونکي توګه به دهغه څه له مخې چې دوی یې خپلو ځایي ټولنو ته د رسولو وړتیا لري وارزول شي. لکه څرنګه چې یوه رایه ورکونکي په مزارشریف کې داسې وویل: " له ټاکنو څخه وړاندې مونږ د پارلمان له نوماندانو سره ښې اړیکې درلودلې، خو تر ټاکنو وروسته موږ نه پوهیږو چې دوی څه کوي.... زه د دې شاهد یم چې دوی دخپل ځانونو لپاره عصري کورونه جوړوي، خو د خلکو لپاره کوم خدمت نه کوي. " په ځینو بیلګو کې خپله پارلماني غړې په دې هکله اندیښمن دي چې په راتلونکو ټاکنو کې به د دوی د سرچینو لیږد( یا د سرچینو په رسولو کې نیمګړتیا) به څرنګه بشپړیږي. د بلخ څخه د پارلمان یوه غړې څرګنده کړه: " خلکو ته د ژمنو ورکول زمونږ غلطي وه. له ټاکنو څخه وړاندې ما له خلکو سره ډیرې ژمنې کړې وې، خو په خواشینی سره مونږ ونشو کړای چې ټول دغه پروګرامونه پلي کړو او مونږ د خلکو باور له لاسه ورکړ. "

په ټولیزه توګه، که څه هم چې شخصي اړیکي لا تر اوسه د ځایي سیاست تر ټولو مهم اړخ دی. د ځایي مشرانو او ملکانو سره اړیکي اکثراً د ودونو د ځمکې څخه د استفادې او د سوداګرۍ پر بنسټ ولاړې دي. د هر څومره اوږدې مودې لپاره چې دغه اړیکې د رایه ورکونکو په ورځني ژوند کې اقتصادي او سیاسي اهمیت درلودلای شي نو له نورو شبکو سره چې دوی دا ډول نږدې اړیکي نه لري د اړیکو لپاره به انګیزه خورا لږه وي. یو سوداګر چې د پارلمان د غړې په قوم پورې تړاو لري وویل: "زه او دی ډیر ښه دوستان یو او د دوولسو کلونو څخه ټولګیوال هم وو، خو زه باید اقرار وکړم چې ده زمونږ د ځایي ټولنې لپاره هیڅ خدمت نه دی کړی،" خو وروسته په ډاګه شوه چې لاتر اوسه هغه په پام کې لري چې هغه ته رایه ورکړي. د مرکه شوو کسانو ځوابونه څرګندوي چې په اوږد مهال کې د سیاسي بدلون لپاره امکانات شته لکه چې ټاکلې شبکې د اقتصادي او سیاسي سرچینو په سمبالونه کې ډیرې اغیزمنې ثابت شوې دي. او چې دا کار وشي، نوملکان او د دوی موکلین به ورو ورو د خپل د ډلې ملاتړ به هغه شبکې ته واړوي چې په ځایي کچه پیاوړې ښکاري. زیاترو مرکه شوو څرګنده کړه چې دا ډول بدلون به خورا ورو وي، له دې سره کم شمیر ځواب ویونکو د تیرو لسو کلونو په اوږدو کې په خپله سیاسي وفاداری کې یې د پام وړ بدلون څرګندونه وکړه. له دې سره سره راتلونکې ټاکنې د دغوګڼ شمیر شبکو د پیاوړتیا یوې مهمې عامه ازموینې ته ژمنې دي کوم چې په ځایي سیاسي بحثونو کې اکثراً نه دي ذکر شوې.

## ۴. ولې پارلماني ټاکنې د ځایي ټولنو لپاره ارزښتناکې دي

راتلونکې پارلماني ټاکنې په افغانستان کې د ځایي سیاست لپاره خورا مهمې دي او په افغانستان کې د ډموکراتیک بهیر لپاره د یوې کړنلارې رامینځ ته کولو ته به ادامه ورکړي. رایې کولای شي بهیرونه لکه کمپاینونه سره یو ټوټه کړي او په ځایي کچه د سیاسي ، قومي او قبیلوي ډلو ځواک څرګند کړي لکه چې د۱۳۸۸ کال په ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو کې دا کار وشو.[۱۰] تر دې ها خوا، که څه هم چې پارلماني ټاکنې په افغانستان کې ځایي سیاستونه اغیزمنوي ځکه چې دوی د لږو فرصتونو له ډلې څخه یو فرصت ټولنې ته وړاندې کوي څوپه کابل کې له ملي حکومت او نړیوالې ټولنې سره استازیتوب تر لاسه او یا یې له لاسه ورکړي، او دا د پام وړ عامه خبرو اترو لپاره فرصت لري او یا یې را مینځ ته کولو ته ادامه ورکوي.

لکه چې د ۱۳۸۹ کال ټاکنې نږدې دي نو د دې یادونه خورا مهمه ده:

- **هغه ځایي ټولنې چې پارلماني استازې لري زیاتې ملي او نړیوالې مرستې تر لاسه کوي**

که څه هم چې کومه قطعي څیړنه نه ده تر سره شوې، خو په دې هکله یوه څرګنده پوهه شته چې هغه ټولنې چې په پارلمان کې یو غړی لري د حکومت او نړیوالې ټولنې له پیسو څخه د ګټه پورته کولو امکانات لري. د پام وړ کیسه ایز شواهد دغه باور پیاوړی کوي او د راتلونکو ټاکنو لپاره زیاته ځایي پاملرنه او لیوالتیا هڅوي.

[۱۰] د ۱۳۸۸ کال په ټولټاکنو کې دګډون او سیاسي خبرو اترو د هڅولو د موضوع په هکله د بحث لپاره د نوح کاوبرن او انا لارسن، په ګډه رایه ورکونه وګورئ

- **په ټاکنو کې ځايي هڅې او هاند به په عامه توګه ادامه ولري**

په پارلمان کې د ځايي ټولنې د استازيتوب لپاره د يوه غړي د درلودلو د درک شوې ګټې د پايلې په توګه، آن د يوه رسمي کمپاين تر پيليدو وړاندې هم د مشرانو او مخورو د سيالو شبکو او قومندانانو تر مينځ په ټولنه او د ټولنو تر مينځ د پام وړ عامه مبارزې ادامه لري. لکه د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو په څېر په بازارونو، مکتبونواو نورو عامه ځايونو کې په دې هکله بحثونه تاوده دي، دغه مينه تر ځيرنې لاندې سيمو کې چيرې چې د ځايي ډلو تر مينځ ډيرزيات تاوتريخوالی او په ډلو ويشل کيدل موجود دي پياوړې ده. دا په افغاني ځايي سياست کې چيرې چې په لوړه کچه پټ ساتل، غولونه او د هڅوونکي پټ ساتل، او لږ عامه سياسي ټولنې موجودې دي د پام وړ دی، ګڼ شمير ځواب ويونکو له يوه سياسي سيستم سره چيرې چې زياتره پريکړې د ترلو دروازو تر شا د ولسوال او يو کم شمير مهمو مشرانو تر مينځ بحثونوکې تر سره کيږي خپله ناهيلي يې څرګنده کړه. همدا راز ۳۰ کاله جګړه او بی ثباتي، دبيا پخلاينې د يو جدي بهير نه شتون، او د اوسنی مخ په زياتيدونکې ثبات چې په پراخه کچه د نړيوالو ځواکونو د شتون په واسطه تامين شوی او داسې شرايط يې را مينځ ته کړي چې د سياسي ډلو او شبکو تر مينځ تاوتريخوالی او خرپړ تياوې د بوځې ځواکونو د مداخلې له ويرې تل ځپل کيږي. دغه ټاکنې به خلکو ته د مباحثې لپاره به د غونډيدو عامه ځای ورکړي چيرې چې پر جدي ځايي سياسي موضوعاتو به بحث وشي کوم چې د ډموکراټيکو بحثونو د هڅولو وړتيا لري خو همدا راز سياسي تاوتريخوالي به هم څرګند کړي. لوويس دوپري د ۱۳۴۴ او ۱۳۴۹ کلونو د پارلماني ټاکنو بيلګې يې څرګندې کړې دي، کله چې دښمنی سختې شوې لکه " د قومي ډلو يا د ډلو تر مينځ ويش " "خپل اختلافات يې د رای پانو بکسونو ته هم راوړل".۱۱ د ځيرنې په زياترو سيمو کې د ۱۳۸۹ کال ټاکنو د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو په پرتله له وړاندې نه يې زياته پاملرنه او ليوالتيا ځانته را اړولې ځکه چې د دوی پاملرنه خورا ځايي ده، او د ولايت او ولسوالی د موضوعاتو په هکله چې د خلکو په ژوند به خورا د پام وړ اغيزې ولري بحثونه يې را مينځ ته کړې دي.

- **ښايي چې نوماندې د ټولنې د مشرانو او قومندانانو يو پراخ ترکيب منعکس کړي**

مرکې څرګندوي چې د ځايي سياسی ځيرو يوه پراخه لړی به په راتلونکو ټولټاکنو کې ګډون وکړي. په ۱۳۸۴ کال کې د ولسي جرګې د ونډې او همدا راز په دې هکله چې په دې کې يو مقام به د يوه غړي لپاره څه ډول ګټې ولري شک او پوښتنې موجودې وې. تر ځيرنې لاندې څو سيمو کې د جګړې د مهال قومندانان چې په ۱۳۸۴ کال کې په باالقوه ډول دعدلي تعقيب له کبله انديښمن وو، اوس يې پريکړه کړې چې په ټاکنو کې ګډون وکړي او هڅه کوي څو نورې اقتصادي او سياسي سرچينې د خپل د نفوذ د ساتلو لپاره وکاروي. لکه چې يوه رايه ورکونکي وويل: " پخوا قومندانو د خپلو وسلو د په کارولو په موخه يې د خلکو لاربښوونه کوله، خو اوس په غير دولتي سازمانونو او افغان حکومت کې ددوی د مقامونو څخه د استفادې له لارې د خلکو لاربښوونه کوي. " په همدې توګه د ۱۳۴۴ او ۱۳۴۹ کلونو د پارلماني ټاکنو تر مينځ د نوماندو په شمير او نفوذ کې يو زياتوالی موجود ؤ او په دې بهير کې د ځايي مهمو کسانو يوې پراخې لړی ګډون درلود. ۱۲

- **ټاکنې د ټاکلو ډلو ځواک او شهرت څرګندوي**

د ګڼ شمير ځواب ويونکو لپاره په بريالی توګه پارلمان ته د يوه نوماند ټاکنه په دې مقام کې د يوې ځيرې د درلودلو لپاره يو مادي انعام نه دی؛ په حقيقت کې دا يوې ځايي ټولنې ته د نورو سيمو په نظر کې لوړ مقام ورکوي. په حقيقت کې د ملاتړ شبکې نه يوازې د ټاکلو سرچينو د تر لاسه کولو د وړتيا په اړه دي، بلکې همدا راز په ځايي ټولنه کې د شهرت او ټاکلي اعتبار او مقام د ساتلو په هکله هم دي. يوازېنې لاره چې ځواب ويونکې هڅه کوي د خپلو پارلماني غړو پياوړتيا او هغه افتخار چې دوی خپلو موکلينو ته ګټلی اندازه کړي هغه رسنيو ته د دوی د لاس رسی د وړتيا له مخې ټاکل کيږي. د ګڼ شمير رايه ورکونکو لپاره په يوې رسنی کې د پارلمان د يوه غړي څرګنديدل د هغې ټولنې سياسي پياوړتيا څرګندوي، او په رسنيو کې د څرګنديدو په برخه کې بی وسي د ټولنې نيمګړتيا څرګندوي. ( د بلخ يوه زده کوونکې په رسنيو کې څرګنديدنه د سياسي اغيزمنتيا سره ارتباط ورکړ او داسې شکايت کوي: "تر اوسه له دې سيمې څخه د پارلمان هيڅ يوغړی مو و نه ليد چې د خلکو ستونزې يې په پارلمان کې را پورته کړې وي او نه هم هيڅ کله د رسنيو له لارې له خلکو سره غږيږي. ") دغه د اعتبار او شهرت عناصر به له ټاکنو وروسته خورا حساس شي ځکه چې د رايو شميرل د رايو د شميرلو د مرکز له خوا خپريږي او په دې توګه کولای شي د ځايي ډلو لکه د قومي ډلو او سياسي ګوندونو نسبي پياوړتيا څرګنده کړي، او خپل اعتبارته د ټاکنو له پړاو څخه ها خوا هم بڼه ورکړي.

- **ټاکنو د سيالو شبکو تر مينځ د زياتې سيالی او همکاری لپاره هڅوونکي يا انګيزې را مينځ ته کړې دي**

له وړاندې نه په ټولنو کې د ملاتړ د شبکو تر مينځ اکثراً د قومي يا ګوندي ډلوسره د رايو لپاره مبارزې پيل شوي دي. که څه هم چې خلک هم په ټوليزه توګه له هغې سيمې څخه د نوماندو د شمير د راکمولو لپاره هڅه او همکاري کوي څو په دې توګه وکولای شي د سياسي استازيتوب د تر لاسه کولو لپاره فرصت له لاسه ورنه کړي( ددې ويره شته چې د "رايو ويش" به د ټولنې استازيتوب کمزوری

۱۱ " افغانستان د ډموکراسی په هکله خپلې تجربې ته ادامه وکوي: ديارلسم پارلمان ټاکل کيږي" د لويس دوپري ليکنه، د امريکايي پوهنتونسيمه ايزکارکونکي، د سهيلي ايشيا لړیXV ، نمبر ۳(۱۹۷۱)،۱۰

۱۲ "افغانستان د ډموکراسی په هکله خپلې تجربې ته دوام ورکوي" د لويس دوپري ليکنه

او یا له مینځه یوسي). د همکارۍ لپاره دغه هڅوونکي د ټولنو د یوالي وړتیا لري خو ټولې ځایي ټولنې به ددې وړتیا د تشخیصولو او په عامه توګه د پټو نیمګړتیاوو د را بر سیره کولو قابلیت ونه لري. هغه ټولنې چې د همکارۍ د اړتیا او د ځایي شبکود ګټو د انډولولو په کار کې خورا ښې دي په ولسي جرګه کې به زیات استازیتوب وګټي.

- **زیاتره ځایي بحثونه د ځایي ټولنو پر هغو هڅو راڅرخي چې غواړي له یوې سیمې څخه د نوماندو شمیره راټیټه کړي.**

د واحد او د نه لیږد وړ رایه ورکولو د سیستم په هکله د مرکه شوو کسانو په مینځ کې یوه پراخه پوهه موجوده ده چې ددغه سیستم له مخې په افغانستان کې د یوې ټاکلې ټولنې لپاره د نوماندو یوه مطلوبه شمیره به دهغې سیمې استازیتوب لوړکړي. په دې معنی چې ځایي ټولنې له وړاندې نه پر هغو لارو چارو بحث کوي چې له مخې به یې په هغه سیمه کې د نوماندو شمیره راټیټوي. په تېرو ټاکنو کې ټاکلې ټولنې په ځانګړې توګه په روغه جوړه کې خورا اغیزمنې وې.لکه چې یو ه رایه ورکوونکي په بلخ کې وویل: " له هغه ځایه چې په دې سیمه کې پښتانه، تاجیک او هزاره اوسیږي نو مونږ. په دې وتوانیدلو چې د نوماندو شمیره دریوو ته را ټیټه کړو، خو له دې کبله چې په دې سیمه کې هزاره یو کوچنی قوم دی نو دوو نورو قومونو نوماندانو وګټله."

- **په پارلمان کې د څوکیو ګټل ترهغو لارو چارو چې د څوکیو د ګټلو لپاره په کارول کیږي خورا مهم دي**

ټولنې دا لیوالتیا لري څو ولسي جرګې ته د امکان تر حده ګڼ شمیر استازي وټاکي، پرته له دې چې د دوی د ټاکلو څرنګوالي ته پاملرنه وشي. د بېلګې په توګه تر څېړنې لاندې یوې ولسوالۍ کې د ۱۳۸۸ کال د ولایتي شورا ټاکنو لپاره دوو کسانو څوکۍ وګټلې. په پراخه توګه دغه باور موجود دی چې یو نوماند په قانوني توګه ګټوونکی شو، په داسې حال کې چې بل تن یې چې د خلکو ملاتړ یې لږ. له ځانه سره درلود له درغلیو څخه یې کار واخیست. ځینو مرکه شوو کسانو دا خبره یې تایید کړه چې په ځایي کچه فساد شتون درلود چې د منلو وړ نه ؤ، خو سره له دې د ټاکنو له پایلو څخه خوښ دي او په حقیقت کې ددوی ولسوالۍ اوس په ولایتي شورا کې دوه استازي لري. دغه مصلحت د ځواب ویونکو له لورې د رایه ورکولو په مرکزونو کې د درغلیو او فساد د په هکله یې سخت شک را مینځ ته کړی ؤ. دا نور هم څرګند شو چې ولې زیاترو ځوابو ویونکو د درغلیو رپوټونو ته یې نه یوازې د څېړنکو آن د ټاکنو د چارواکو په وړاندې هم دومره ارزښت نه ورکاوه.

## ۵. دا د ۱۳۸۹ کال د ټاکنو لپاره څه مفهوم لري

ددې پوهې په درلودلو سره، اوس دغه سیاسي بهیر د اهمیت ارزونه خورا آسانه ده چې د وړې په میاشت کې د په پام کې نیول شوو پارلماني ټاکنو له لارې رامینځ ته شوی. په ځانګړې توګه، زیات مرکه شوې رایه ورکوونکي دهغو کسانو په پرتله چې د اړوندو نړیوالو سازمانونو له خوا وړاندیز شوې دي د ټاکنو څخه د ملاتړ لپاره بیلا بیل دلیلونه لري، کوم چې د ځینو لارو چارو وړاندیز کوي چې افغان حکومت او نړیواله ټولنه کولای شي په افغانستان کې د دیموکراتیک بهیر د پیاوړې کولو لپاره خپلې هڅې متمرکزې کړي.

- **افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید پر پارلماني ټاکنو خپل تمرکز زیات کړي ځکه دوی به ځایي سیاسي جوړښتونه بدل او یا به یې پیاوړې کړي.**

د زیاترو ځواب ویونکو لپاره د راتلونکو ټاکنو په هکله له وړاندې نه د بحث کولو لومړنی دلیل دا دی ځکه چې دا یو سیاسي بحث ځای را مینځ ته کوي په کوم کې چې په یوه سیمه کې د ملاتړ بیلابیلې شبکې او سیاسي څېرې په کابل کې حکومت او نړیوالې ټولنې ته د ښې لاس رسی لپاره سره سیالي کوي. په تېرو کلونو کې نړیوالې ټولنې په مخ په زیاتیدونکې توګه یې پر سیمه ایزې حکومتدارۍ یې تمرکز درلود، او دا ټاکنې د افغان رایه ورکونکو لپاره د هغو لږو فرصتونو له ډلې څخه یو فرصت دی چې کولای شي په ځایي سیاستونو کې هغه بانفوذه سیاسي څېرې وارزوي او پرې بحث وکړي چې په ځایي کچه د ثبات په رامینځ ته کولوکې خورا مهمې دي. په ټولیزه توګه ځواب ویونکو د کابل او ځایي ټولنو تر مینځ د اړیکو په رامینځ ته کولوکې د اوسنیو پارلماني غړو پر نیمګړتیاوو یې نیوکې درلودلې، خو ګڼ شمیر بیا په دې هکله چې پارلماني غړې څرنګه کولای شي له ځایي ټولنو سره مرسته وکړي یو شمیر نظریې یې درلودلې او په دې باور وو چې د ټاکنو یو روڼ بهیر کولای شي ځایي حکومتدارۍ ته وده ورکړي.

- **نړیواله ټولنه او افغان حکوت باید له هغو پروګرامونو څخه چې عامه سیاسي بحثونه هڅوي ملاتړ وکړي.**

یوازې له دې کبله چې ګڼ شمیر رایي ټاکلو سیاسي شبکو او ډلو سره د وفادارۍ پر بنسټ ولاړې دي خو دا په دې معنی نه ده چې د نوماندو د وړتیا په هکله د پام وړ بحثونو لپاره لیوالتیا نه شته. سر بیره پردې زیاتره ځواب ویونکي څرګندوي چې د رایه ورکونکو پوهه په سیاسي بحثونو کې د اغیزمن ځای د نه شتون په اندازه دومره مهمه موضوع نه ده. څو ځواب ویونکو په دې هلکه چې نوماندې د مهمو ګوندونو د چارواکو، مشرانو او نورو مخورو څېرو تر مینځ د شخصي بحثونو له لارې ټاکل شوې دي شکایتونه یې درلودل. د مدني ټولنې د ډلو او پروګرامونو لپاره یو د پام وړ فرصت شته چې په افغانستان کې ټاکنیز حکومت پیاوړې کول هڅوي څو د سوله ایز عامه بحث لپاره د بحث ځایونو سره مرسته وکړي.

- **درغلی او فساد به ښايي زيات شي او په مخ په زياتيدونکي توګه به د هغه ځارل ستونزمن وي او ځارنه بايد پر ځايي کچه تمرکز ولري.**

د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو ښه والی، د روڼوالي د زياتولو او د فساد او درغليو د را کمولو له لارې افغان حکومت، د ټاکنو خپلواک کميسيون او نړيوالي ټولنې ته به لازمه وي څو د ټاکنيز بهير د سمون لپاره ژمنه وکړي، دا هغه څه دي چې زياتره رايه ورکوونکې ددې کار د نه شونتيا په هکله باور لري. په دې معنی چې زياتره خلک د جدي فساد او درغليو سره د يوې بلې ټاکنې احتمال ته سترګې په لاره دي. حقيقت دا دی چې نوماند هم په دې باور دي چې دا ډول فساد به ښايي يوائې په دې ډول درغليو کې د تياری او ګډون لپاره هڅوونکي يا انګيزه زياته کړي. د ځايي شبکو او ځايي اندېښنوترکيب څرګندوي چې د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په پرتله به درغليو بيلګې زياتې شي. چې دا به ځارنه خورا ستونزمنه کړي په دې معنی چې د رايه ورکوني په مرکزونو کې پر ځايي ځارنې زيات تمرکز ته اړتيا ده.

- **په داسې حال کې چې سمون اړين دی ، ددې امکان نشته چې فساد او درغلی به نور هم د ټاکنو بهير غير قانوني کړي.**

په داسې حال کې چې زياتره ځواب ويونکي په دې باور دي چې په راتلونکو ټاکنو کې به فساد او درغلی زياتې شي، يو کم شمير ځواب ويونکي تمه لري چې د ۱۳۸۹ کال ټاکنې به په هر صورت رنې وي. يو کم شمير رايه ورکونکو د ولايتي شورا ځايي نوماند يې په ارامی سره په درغليو تورن کړي، خو اکثريت په شورا کې د خپلې ټولنې لپاره د زياتوڅوکيو د تر لاسه کولو په هکله زيات اندېښمن وو. په حقيقت کې د ملاتړ پر بنسټ ولاړ يو سياسی سيستم کې نفوذ د سرچينو د سمبالونې لپاره له درک شوې وړتيا څخه تر لاسه کيږي که دا کار په قانوني توګه وشي او که و نه شي. په پای کې هغه وړتيا چې د ټاکنو د کميسيون پر غړو نفوذ ولري او په قانوني او غير قانوني توګه د رايو په مجموعه کې زياتوالی راولي د يوه نوماند د ځواک د ښودلو په مفهوم ده.په داسې حال کې چې د اوسني سيستم د سمون لپاره بايدهڅې تر سره شي، همدا راز بايد دغه درک هم موجود وي چې دا يو اوږد مهاله بهير دی او واک لرونکي رايه ورکوونکي به په رڼو ځايي سياسي خبرو اترو کې شامل شي، او ډير احتمال لري چې دوی د درغليو د ځايي بيلګو په هکله خبرې وکړي او د هغې پر وړاندې عمل وکړي.

- **د اساسي قانون د کړنلارې د تعقيب کمزوري پر نظرياتو يې لږه اغيزه کړې ده**

ځواب ويونکي د روڼوالي او د باالقوه درغليو په پرتله د اساسي قانون د کړنلارې د تعقيب په هکله لږ اندېښمن وو. لکه څرنګه چې لاتر اوسه په افغانستان کې ټاکنې د وړاند وينې وړ ډموکراتيک نظام برخه نه ده، زياتره ځواب ويونکي د ټاکنو د ځنډ په هکله بې اعتنا وو. په ۱۳۸۸ کال کې د روڼوالي د نه شتون او فساد په هکله د نړيوالي ټولنې د اندېښنو د په پام کې نيولو سره، که چيرې ټول ګوندونه د نظام د سمون لپاره جدي ژمنې وکړي او بيا ټاکنې وځنډيږي دا به په افغانستان کې د يو پارلماني حکومت لپاره په اوږد مهاله راتلونکې کې د زياتو ګټو پر شتون دلالت وکړي. پرته له دا ډول يوې ژمنې که څه هم چې د ټاکنو د ځنډيدلو له لارې لږ څه تر لاسه کيدای شي.

- **د نوموړو ټولټاکنو د ملاتړ په برخه کې د نړيوالي ټولنې هڅې بايد د امکان تر حده رڼې وي**

په راتلونکو ټاکنو کې د نړيوالي ټولنې درک شوې ونډه په افغانستان کې د نړيوالي ټولنې د حضور په هکله ځايي نظريو ته ښه ورکوي. ګڼ شمير ځواب ويونکي د ۱۳۸۸کال په ټاکنو کې له وړاندې نه د نړيوالي ټولنې د ونډې په هکله شکمن دي[13] او په ملي حکومت کې د لاس وهنو له کبله پرې بدګومانه دي. آن که چيرې د نړيوالي ټولنې ښکيلتيا لږه هم ده ، مرکې څرګندوي چې نړيواله ټولنه به لا تر اوسه هم د فساد او نورو بې نظميو له کبله ډيره پړه وي، چې دا به په هيواد کې د دوی اعتبار ته نور زيان هم ورسوي. سر بيره پردې د ټاکنيز سيستم د سمون لپاره هڅې د ولسمشر کرزي سره د پردې تر شا خبرو اترو له لارې په ټاکنو کې د نړيوالي ټولنې ښکيلتيا په حکومت کې د لاس وهنې د يوې هڅې نښه ګڼل کيږي. نړيوال فعالين په ځانګړې توګه بايد پر هغو پروګرامونو تمرکز وکړي چې ځايي ډموکراتيک بحث ځايونه او ځارنې هڅوي.

## ۶. پايلې

د ولسي جرګې راتلونکې ټاکنې، د ګڼ شمير ځايي سياسي څيرو او شبکو او همدا راز په افغانستان کې د ډموکراتيک بهير د ملاتړ لپاره د نړيوالي ټولنې د هڅو يوه ډيره عامه ازموينه ګڼل کيږي. دا کار لکه د تيرو سياسی شبکو تر مينځ د پخوانيو دښمنيو د بيا را ژوندي کولو، د تاوتريخوالي امکانات( لکه چې تير کال دولايتي شورا د څو تنو نوماندو په سياسي وژنه کې وليدل شول) او د ټاکنيز بهير په لړ کې مخالفو څيرو ته د فساد له لارې د سياسي ځواک د تر لاسه کولو په شان خطرونه رامنځته کوي.

[13] د مشروعيت له لاسه ورکول، د نوح کاوېرن ليکنه وګورئ

که څه هم چې د ۱۳۸۹ کال پارلماني ټاکنې هغه وړتیا لري چې د افغانانو د خبرو اترو لپاره یوه ځانګړې فضا رامینځ ته او په پای کې د سیاسي شبکو په هکله کوم چې د خپل سیاسي ژوندانه بنه ورکولو ته ادامه ورکوي او دکوم سره چې ګڼ شمیر خلک راضي نه دي په هکله پریکړه وکړي. ددې وړتیا اهمیت باید له پامه ونه غورځول شي ځکه چې په راتلونکو کلونوکې به په افغانستان کې ټولټاکنې ځایي سیاستونو ته بڼه ورکړي.او که چیرې پدې اړه لا زیاتې هلې ځلې وشي نو دا به د افغانانو لپاره یو فرصت برابر کړي څو د ځواک له خاوندانو سره د خپلو اړیکو په هکله له سره پداسې بڼول مذاکره وکړي چې په پای کې هم دوی ته ګټه ورسوي او هم یو خورا ډموکراتیک راتلونکی وهڅوي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کونکو سره ددوی د څیرنیزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څیړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه شکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوي درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، ایشیا فوندیشن (TAF)، اروپایی کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څیړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.